SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونۍ کي دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

دریم کال دوه دیرشمه گڼه پرله پسي (۱۳۲) چهارشنبه د ۱۴۱۹هق کال دصفرالمظفر (۱) ۱۳۷۷ هـ ش کال د غبرگولي دمیاشتي (۶) د۱۹۹۸میلادي کال مي (۲۷)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! . همدا (عدل) ډیــر نــږدي دی تقوا(پرهیزگـاری) ته .

(سورة المائدة)

دوستم بنام (افغانستان شمالي) بانکنوت، نشان و بیرق خاص طبع مینماید

شاهدان عینیکه از شهر هاي مزار شریف، تخار و شبرغان به شهر کندز مواصلت ورزیده اند ؛ به خبرنگار اعزامي هفته نامه شریعت در ولایت کندز اظهار نمودند که دوستم به منظور هوي نفسي و بقاي شخصي خود؛ در صفحات شمالي کشور پروتوکولي را به منظور تجزیه افغانستان (افغانستان شمالي و جنوبي) با کشور روس امضأ نموده است که در قبال این پروتوکول کشور روس حاضر شده است تا حسب خواهش و تقاضاي دوستم ، بنام افغانستان شمالي علاوه بر بانکنوت هاي خاص، نشان و بیرق خاص نیز طبع نماید؛ همچنان شاهدان اظهار داشتند که هم اکنون دوستم در المان به منظور جلب کمك هاي آن کشور براي تقویه جنبش شمال بسر میبرد. در خبر علاوه شده است که دوستم به غرض تحقق این خیال پوچ خویش در فکر دو باره تسخیر ولایات کندز ، بغلان و تخار است . موصوف همه توجه و اهتمام قوت هاي خویش را به استقامت کندز معطوف نموده است. او(دوستم) با این فکر تا تمام و پوشالي که دارد در هوس و ارمان مناطق متذکره به تصرف نیرو هاي خویش بوده و آن وقت است که موقع مناسب رابراي تجزیه افغانستان شمالي به دست خواهد آورد متکي بر حسب همین خیالات ناسنجیده خویش موضوع پروتوکول طبع بانکنوت هاي خاص، بیرق و سمبول افغانستان شمالي را روي ص۰۴

د ننگرهار په ولایت کی یو تن قوماندان له اسلامی امارت سره خپل پیوستون اعلان کړ

یو تن وسله وال قوماندان په دي وروستیو وختو کي د ننگرهار ولایت د کوټ په ولسوالي کي د اسلامي امارت د مجاهدینو له لیکو سره یو ځاي شو.

د جلال اباد له ښار نه د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ امیر گل قوماندان له خپلو لسو تنو افرادو، دریو کلاشینکوفونو او یوي مخابري سره د کوټ د ولسوالي په مربوطاتو کي له مجاهدینو سره یو ځاي شو او د اسلامي شریعت د نافذېدو او په هیواد کي د سراسري امنیت د تامیـــن په باب یي د همکاري ژمنه وکړه . نوموړي قـــــوماندان مخکي د مخالفینو په لیکو کي فعالیت کاوه .

د ختیځ زون د تنظیمه رئیس او د سرپرستي شوري مرستیال له جهادي مشر محترم مولوي محمد یونس «خالص» سره وکتل

د سرپرستي شوري مرستیال د ختـیځ زون تنظیـمـه رئیس او د ننگرهار ولایت والي محـترم مولوي عبدالکبیر د هیواد له جـهادي شخصیت محترم مولوي محمد یونس خالص سره دده په کور کي وکتل.

د جلال اباد له ښار نه د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ د کتنو په بهیر کي پداسي حال کي ... غلورم مخ

په اسلام اباد کی د افغانستان د اسلامی امارت سفیر محترم مولوي عبدالحکیم "مجاهد" له شریعت غږ راډیو سره په مرکه کی :

په افغانستان باندي د نړیوالي ټولني فشار د ملگرو ملتونو د منشور، د بشر د حقوقو د اعلامیي او نړیوالو میثاقونو او قوانینو خلاف عمل دي

اسلامي امارت باید بهرني فشار ته د تسلیمي په ځاي نور هم ملت له ځانه سره یو ځـــــاي کړي

په افغانستان کي نافذ شریعت د ملت غوښتنه او اراده ده چي څوارلس سوه کاله تاریخي قدامت لري

د اسلامي امارت د دښمنانو تبلیغات نه یوازي دا چي د افغانانو د دین عقیدي او کلتور سپکاوي دي بلکه د ملگرو ملتونو په منشور د بشر د حقوقو په اعلامیي او نړیوال میثاق هم ملنډي وهل دي

درنو لوستونکو! په اسلام اباد کي د افغانستان د اسلامي امارت سفیر محترم مولوي عبدالحکیم «مجاهد» نه یوازي دا چي یو دیني عالم دي بلکه یو مخور ، سیاست مدار او په نړیوالو قوانینو پوه شخصیت دي چي په افغانستان کي د شرعي حدودو په تطبیق باندي د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت او د ملگرو ملتونو د بشر حقوقو د اداري په دي وروستیو نیوکو په اړه ورسره شـــریعت غږ راډیو یوه مرکه کړېده چي لوســـتلو ته یي ستاسو پـــام راړوو .

پوښتنه : د بشر د حقوقو اداري په دي وروستیو وختو کي د اسلامي امارت په شرعي احکامو نیوکي کړېدي تاسو په دي هکله څه وایي؟

ځواب : بسم الله الرحمن الرحیم - په دي هکله باید عرض وکړم چي د بشر د حقوقو څني موسسي او په ځانگړي ډول د ایمنستي انټر نشنل چي کوم راپورونه تیاروي د دوي راپورونه اکثره ما لوستي دي دا ټول له تعصب نه ډك او د اسلامي امارت په خلاف د تبرو پروپاگندیو یوه لړۍ ده دا چي دوي په حدودو او قصاص اعتراض کړېدي په داسي حال کي چي حدود او قصاص او نوري شرعي سزاگاني اصلاً په اسلامي شریعت کي غلورم مخ

سنگ عمار پلچك هاي مسیر سرك سروبي نغلو گذاشته شد

سنگ اعـــمار هشت پایه پلچك در مسیر سرك سروبي نغلو ولایت کابل گذاشته شد .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد در محفلیکه به همین مناسبت به شرکت هیأت رهبري ریاست احیا و انکشاف دهات علماکرام طلبا و جمع کثیري از اهالي آن ولسوالي دایر گردیده بود بعد از آنکه چند آیت از کلام الله مجید قرائت گردید محترم مولوي عبدالسلام حقاني معاون ریاست عمومي احیا و انکشاف دهات در رابطه به اقدامات امارت اسلامي افغانستان جهت اعمار تاسیسات عام المنفعه صحبت نموده همکاري مردم ولسوالي سروبي را جهت اعمار پلچك هاي متذکره خواستار گردید.

بعداً محترم انجنیر محمد گل رئیس ساختماني آنریاست پیرامون خصوصیات کار تخنیکي پروژه مذکور مفصلاً معلومات داد. این پروژه که به همکاري انجنیران و کارگران ریاست حلورم مخ

د غرش د فټبال ټیم د اتحادیه ټیم بریالي شو

د بي د گروپ د فټبال په ھغو لوبو کي چي د کابل په ملي ورزشي لوبغاړي کي وشوي د غرش د فټبال ټیم د پنځو په مقابل کي په شپږو سره د اتحاد د فټبال په ټیم باندي بریالي شو.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په دغو لوبو کي چي د المپیك د ملي کمیټي لخوا د مرکز د فټبال د ټیمونو غلورم مخ

د ننگرهار د چوره گلي دښته به خړوب او باغونه شي

د ختیځ زون د پلان رئیس

د ختیځ زون د تنظیمه ریاست د پلان رئیس محترم مولوي حبیب الله ابوخلیل ویلي دي چي مونږ د ننـــگرهار بریښنا له ریاســـت سره تفاهم ته رسیدلي یو چي د حصار شاهي کمپ ته بریښنا ورکړو چي لگښت یي څو تنو ملي سوداگرو منلي دي او هلتـــه هغــه ژوري ېنځــه خــاه کاني چي د دوه زرو والرو په بیــه جـوړي شــویدي ددي جوګه شي چي د چوره گلي پراخــه دښته پري خړوب او د کښت کروندي ور وگرځي. چي د سیمي اقلیم او اقتصاد به هم ورسره مثبت تغییر وکړي.

د کابل ، هرات ، ننگرهار او لوگر د ولایتونو د وریښمو چنجیو د روزني پروژه بیا احیا او په فعالیت یي پیل وکړ

د کابل هرات، ننگرهار او د لوگر د ولایتونو د وریښمو د چنجیو د روزني پروژي چي له شلو کلونو را پدېخوا له فعالیت نه لویدلي وي په دي وروستیو وختو کي بیا احیا او په فعالیت یي پیل کړېدي.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ د عام المنفعه او اقتصادي پروژو د بیا احیا کولو په دوام په دي وروستیو وختو کي د کرني وزارت د چارواکـــو د هلو ځلو له امله د وریښمو د چنجیو د روزني پراخ کمپاین پیل شویدي چي تر اوسه پوري په بري سره پر مخ بیول کیږي.

غلورم مخ

سنگ تهداب تعمیر شعبات ریاست عمومي وترنري گذاشته شد

سنگ تهداب تعمیر شعبات ریاست عمومي وترنري طي محفلي توسط محترم عبداللطیف منصورسرپرستوزارتزراعت گذاشته شد .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد در این محفل بعد از آنکه آیاتي چند از کلام الله مجید قرائت گردید محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت زراعت در رابطه به اهداف و برنامه هاي امارت اسلامي افغانستان صحبت نموده از همکاري موسه ص۰۴

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د افغانستان په شمال کي د ملگرو ملتونو گرزنده جمهور رئیس (!!!) او د مشهد د دروغ جوړولو فابریکه

استاذ رباني یو وخت کرار، هوښیار او پوه سړي ښکارېده، چي څه به یي ویل ښه غوږ به ورته نیول کیده او که څه به یي لیکل په مینه به خلکو لوستل، څو د کعبي مبارکي (ذاد ها الله تعالي شرفاً) د میثاق، د پېښور په اشرفیه مدرسه کي په مصحف شریف او بخاري شریفه لاسونه ایښودلو او لوړلو او نورو مقدسو عهدونو او ژمنو ماتولو، دي او ورته څېري سختي وشرمولي، دا ځکه چي د افغانستان دیندارو او مجاهدو مسلمانانو په دوي سخت اعتـماد کړي ؤ، ډېري تمي او توقعات یي ، ور ځخه لرل، خپل سرونه، اولادونه، خپلي ویني او خپل ژوند یي له پخواني شوروي اتحاد سره د جهاد په وخت کي د قرباني لپاره د دوي په واك کي ورکړي وو، د هر تعهد ، میثاق او تړون په وخت کي به علماوو او نورو مسلمانانو دا دعا گاني کولي چي : یا الله! هر څوك چي دغه تړون او ژمنه ماتوي ته یي رسوا او شرمنده کړي! ته یي دنیا او اخرت خراب کړي ! ته یي ...،

د جهاد ترخه وختونه وو، دغه دعاگاني په تودو سنگرونو کي هم کیدلي او په روایتونو کي راغلي دي چي د شرعي جهاد سنگر هم د اجابت له ځایونونه دي، وختونه تیرېدل ده او ده ته ورته څیرو ژمني، قسمونه او عهدونه نه یوازي ماتول بلکي ددغه کار لپاره به یي نور کسان

دوهم مخ

کتابخانه ریاست عمومي اداره امور افتتاح گردید

کتابخانه ریاست عمومي اداره امور طي محفلي افتتاح گردید . دفتر مطبوعاتي شوراي سرپرست به آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : در این محفل بعد از آنکه آیاتي چند از کلام الله مجید قرائت گردید، محترم الحاج ملا محمد طاهر انوري رئیس عمومي اداره امور در رابطه به مزایاي کتاب و کتابخانه صحبت نموده گفتند: کتاب ارزنده ترین پدیده ائیست که قدامت تاریخي خیلي قدیم داشته و ذریعه آن جوامع بشري رهنمایي گردیده و خداوند ص۰۴

سنگ تهداب مدرسه حضرت بلال «رض» گذاشته شد

سنگ تهداب مدرسه حضرت بلال «رض» در مربوطات منطقه اسلام دره ولایت کنر طي مراسمي گذاشته شد .

آژانس اطلاعاتي باختر از اسعد اباد خبر داد: مراسم متذکره با تلاوت ایات ص۰۴

از جریان اجراات امور ریاست عمومي استخبارات وارسي بعمل آمد

هیأت موظف امارت اسلامي افغانستان تحت سرپرستي محترم ملا آغاجان معتصم از جریان اجراات امور ریاست عمومي استخبارات وارسي بعمل آورد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد هیأت موظف امارت اسلامي ضمن آنکه ص۰۴

در حدود ده نفر در شمال تهران مجروح گردیدند

دست کم ده نفر در بر خورد میان محصلان دریك پارك درشمال غرب تهران مجروح گردیدند .

بر خورد زماني رخداد که یك گروپ از محصلان چپگرا که از محمد خاتمي رئیس جمهور ایران حمایه میکنند به اجازه وزارت داخله آنکشور در پارك مذکور اجتماع کرده بودند هدف حمله یك گرپ از تندروان قرار گرفتند.

ص۰۴

شريعت

دتاسيس کال : ١٣٧٤ هـ ش

: د ليکوال هيئت ترنظر لاندې

مسؤول مدير : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتک»

مرستيال : ملا أسد الله «حنيفي» .

ديوي ګڼي بيه : په هيواد کي (١٠٠٠) افغانی په پاکستان کی (٣) کلداری

پوست بکس : (٤٧١)

په پيښور کي :دطالبانو نمايندګی تيلفون: ٨٤٤٣٣١-٨١٨١٥٧-٨١٥٦٢٧

جاري حساب : ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانك مرکز

چاپ : دولتی مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

هم هڅول او چمتو کول ؛ وروسته حالاتو «پټي پاڼي» رالوڅي او قسم خوړلي څيري يي رسوا او بربنډي کړي، ده او نورو لوړه ماتوونکو له هيواد او هيوادوالو ، اسلام او جهاد سره هغه څه وکول چي نړي وليدل؛ اوس نو هغه استاذ رباني د افغانستان په ټول شمال کي دوه شپي په يو ځاي توخته نه شي کولي، نه يي ارام خوب کيږدي، نه خوراك، نه يي د لمانځه حضور پاتي دي او نه د خولي خوند، نه به يي د کور درك معلوم وي او نه د خيلخانې، نه به دي لږ تر لږه يو اعتمادي کس لري او نه په ده د چا اعتماد شته؛

خو د حيرانتيا خبره ده چي : له دي واړو سره سره د ملګرو ملتونو له خوا دي د افغانستان لپاره «ګرزنده» او «رسمي» جمهور رئيس دي !!!، د مشهد راديو او د هغي واکمنو دده لپاره له ځانه « دروغژن د خداي مختوري» جوړ کړي دي او په غټو غټو القابو يي يادوي لکه څوك چي په چاپوري مسخري کوي، لوي لوي کارونه يادوي چي دايي وکړل، هايي وکړل ، خو حال يي په حقيقت کي داسي دي چي د کورونو ساتونکي ځناور هم له هغسي ژوند او مرګ څخه سل ځله پناه غواړي لکه چي د دوي دي؛ که دغسي ژوند هرڅومره اوږد شي د عذاب اوږديدل دي او بس، اخرت خو لا پريږده چي څرنګه به وي ؟

دا خبري د لوي عبرت خبري دي ځکه يي کوو، هر څوك چي د دنيا د متاع يا جاه او جلال لپاره لوړي، عهدونه او ژمني ماتوي او يا د خپلو نفسي غوښتنو لپاره سپيڅلي او مجاهد مسلمانان قرباني ته وړاندي کوي هغه به د دوي په څير رسوا کيږي او زړه به يي د ګناهونو او ناروا کارونو سياهي تور کړي وي، د توبي استعداد به يي هم بايللي وي نعوذ بالله تعالي؛دغسي بي شخصيته افغانان چي په هيڅ نه شرميږي د غربي او شرقي کافرانو لپاره د غنيمت او خوشالي ځاي دي ځکه چي افغانان پاخه مسلمانان دي او کافران د اسلام په خاطر پخه دښمني ورسره لري، د استاذ رباني او مسعود او د دوي د انډيوالانو په څير خلك د اسلام په تخريب او هيواد په بربادي کي ډير په زړه پوري استعمالوي شي لکه چي دوي يي استعمال کړل او لا استعمالوي يي؛

د همدغه شوم مطلب لپاره يي بي رعيته، بي پلازميني او بي لښکره جمهور رئيس ورنه جوړ کړي دي، په رسميت يي پيژني، رسمي غونډو ته يي وربولي او هيښتونه ورځي ورسره ګوري تر څو يي د خيالي جمهوري رياست مفکوره په فکر کي کلکه او ترييه کړي او ددي فرصت ورنه کړي چي د ځان په هکله سم سوچ وکړي او د توبي يا د خپل بايللي شخصيت د بيرته اعاده کولو تصميم ونيسي،

وايي چي د ازار ګټلي عمر لنډوي، زمونږ سپيڅلي هيواد او هيوادوال په الله تعالي دده او دده د مفسدو او ملحدو انډيوالانو له شر نه وژغوري، ځکه داسي نښي او قرائن ډير دي چي د دوي د ناروا کشتي مخ په ډوبيدو ده او هغه ورځ ډيره لري نه ده چي له دوي نه به د تيښتي لوري ورك وي، انشاء الله تعالي مګر ضروري خبره دا ده چي له حالاتو نه يي پندونه او عبرتونه واخستل شي.

فيصله

اي ويده ولسه! محمد نعمان «دوست»

ويښ شه! سترګي وغړوه! دا څومره دروند خوب دي، چي د راکټونو، توپونو بمونو او ... په قوي او لړزونکو اوازونو هم نه بيداريږي ؟ ستا ګنګس خوب نه يواځي ځان؛ بلکي ګران هيواد ، خوږي خاوري وياړمن تاريخ او ... ته هم ستر زيان دي.

پاڅه! نور سکون نه دي په کار. ځکه تا په خپلو سترګو د ګران هيواد په ټپي، ټپي سينه کي هر راز ځواکونه او ځواکمنان وليدل، چاچي ستا د ميني کلا ورانه کړه، چاچي ستا د نيکه توره، د ستر قهرمان اکبر خان د لاس ننبه، د مکتابن قاتله تمانچه په تيښتو سترګو پرديو باداراتو ته وسپارله، چاچي د وياړونو غلي په پوره بي شرمي ونړول، چاچي ستا د ګرانو بچيو په سرونو کي ميخونه ټك وهل، په ژوندوني يي تري هډونه غوڅ کړل، چاچي «رقص مرده» اختراع کړ، او بالاخره چاچي د خپل مذهبي او ملي شخصيت «افغاني» په مړي هم صرفه ونه کړه د قبر مناري يي ورته سوري ، سوري کړي او چا ...

پورته شه! د انتظار او ځارني وخت ختم دي. ستا په نور انتظار به د ظلمونو اووحشتونو بهير لا پسي ګړندي شي. نو پاڅه! يو موټي شه! او د هغه چاپه څنګ کي ودريږه څوك چي ستا سپيڅلو ارزوګانو، ګران هيواد، وياړمن تاريخ او ... په ګټه ګامونه پورته کوي که ته يو پلو ته په پاك نيت ودريږي بل پلو خپله د نابودي کندي ته لويږي.

ستا سکون او بي طرفه پاتي کيدل به نه يواځي د هيواد ، خاوري، او په زيان وي بلکي د زرګونو بي ګناه هيواد والو د وژني مسوليت به درته هم متوجه وي.

نو بيا هم وايم : پاڅه! ويښ شه ! خپله فيصله په ډاګه اعلان کړه او... په خپل پاڅون او فيصلي د وحشتونو او ظلمونو بهير ته د پاي ټکي کيږده .

هو زه پوهيږم چي ملحدو او شريرو عناصرو ته يرغمل نيولي يي خو دا د ظلم او وحشت هتکړي و شکوه ځان کي نور هم حرکت او ساه پيدا کړه .

ستا د ګړندي پاڅون او فيصلي په انتظار

ځان او جهان

پتي پاڼي

شهرت ننګيال

د اندونيز يا جمهور رئيس سهارتو له ٣٢ کلني واکمني وروسته استعفا ورکړه دي د هغو احتجاجونو وروسته استعفا ته مجبور شو چي په تيرو پنځلسو ورځو کي نژدي ٦٠٠ تنه پکي ووژل شول.

د سهارتو کورني د نړي له شتمنو کورنيو څخه ګڼل کيږي، يواځي دده شپږ زامن چي د اندونيزيا په ټول اقتصاد مسلط وو څلويښت ميلونه ډالره پانګه لري، خو څومره، چي سهارتو او کورني يي شته ګټلي وو دغسي د اندونيزيا دعامو خلکو د ژوند سطحه هم لوړه شوي وه، معنا دا چي ده دولس غم هم خوړلی؛ و طبيعي خبره ده چي اول ځان دي بيا جهان، که سهارتو ٨ کاله نوره واکمني چلولي واي نو د افغانستان د پخواني پادشاه د واکمني ريکارډ به يي مات کړي ؤ خو هغه په څلويښتو کلونو کي نه د ځان له پاره څه وګټل او نه د خپلو خلکو له پاره ، بس د پهلوان زنده خوش است پادشاهي يي چلوله .

د ځان له پاره خبره مي ځکه وکړه چي ده په يوه ليك کي د چنګاښ له ٢٦ وروسته څو کسانو ته خپله اقتصادي بيوسي مخکي کړي چي داؤد خان ته ووايي چي دده پلرني جايداد وپلوري او بيه يي ورولېږي چي خپله ګوزاره پري وکړي . ، د ثور تراوو مي خو د افغانستان حکومت ورته په ډالرو حساب معاش ورلېږه خو چي د غوبي کودتا وشوه نه دا چي هغه تنخوايي پري بنده کړه بلکي سلب تابعيت يي هم اعلان کړ. که د سعودي پادشاه ورته معاش نه واي ټاکلي خداي خبر چي څه به يي کول.

د ملت خو دا حال ؤ چي ټولو ليده، دا پيغورونه ده ته آن په واکمني کي محصلينو د زرنګار پارك په مظاهرو کي ورکول چي جاپان او افغانستان په يوه ورځ آزاد شوي خو جاپان ګوره او افغانستان؛سهارتو جنرال دي چي لکه د مرحوم جنرال ضيا الحق د دموکراسي اکتيونه يي کول او يواځي يي د ډندي په زور د حکومت چلول نه غوښتل .

دده کمال دا هم ؤ چي په اندونيزيا کي يي د کمونستانو ظالمانه حاکميت ته د پاي ټکي کيښود ، کمونستانو چي په يوه نظامي کوتا سره د سکارنو حکومت نسکور کړ ، سهارتو يي په خپله څوکي پريښود؛سهارتو له موقع نه ګټه پورته کړه او په باالمثل اقدام يي د کمونستانو تخته نسکوره کړه ده له قدرت نه ګوښه کړي جمهور رئيس ډاکټر عبدالرحمن سکارنو له جيل نه راويوست او جمهور رئيس شو په اندونيزيا کي د حکومت پر ځاي خلکو له کمونستانو انتقام واخيست او په ولسي محکمو کي يي محاکمه او اعدام کړل په ١٩٦٦ کال کي چي سهارتو د دفاع وزير ؤ په يوه سپينه کودتا کي يي سکارنو له قدرت نه ګوښه او محترمانه يي کورته رخصت کړ .

جنرال سهارتو که څه هم د يوي کودتا له لاري قدرت ته ورسيد خو ډير ژر يي دموکراسي او انتخاباتو ته لار پرانيستله تر دي چي د وخت په تيريدو يي د يوه پوځي او جنرال پرځاي ديوه سياستوال دريځ خپل کړ.

سهارتو په رښتيا هم چي د خپل وطن او خلکو د پرمختګ له پاره ډير څه وکړل، وايي چي په اندونيزيا کي د غربت مخه نيول شوي او هلته د لوږي يي کوري او فقر د خپسي دمه ختلي؛ده که د ځان او خپلي کورني له پاره ډير څه ګټلي خو خپل ولس يي نه دي هير کړي،که ډير څه ده تر لاسه کړي نو هغه لږ خويي پرولس هم لورولي او د ميم زورما د ټول زما حرص يي نه دي کړي بلکي د ژوند په ټولو برخو کي يي د خلکو پر مخ د ترقي دروازي پرانيستي دي.

ځکه خو کتونکي وايي که څه هم خلك په تيره محصلين د سهارتو پر ضد راپاريدلي او پاڅيدلي ؤ خو خلك تري ناراضه نه وو له همدي ځايه وه چي د نارامي ځپي نورو برخو ته خپري نه شوي سهارتو خپله يو پياوړي جنرال ؤ چي په خپل هيواد کي يي په ډير مهارت د کمونستانو ټغر ورټول کړي وو اندونيزيا منظم او غښتلي پوځ او پوليسي نظام لري. ده کولاي شول چي د محصلينو پاڅون په سختي سره وځپي پرواکمني باندي د پاتي کيدو ټينګار وکړي، مقاومت ته لاس وغزوي خو ده د ملت ارادي ته غاړه کيښوده او له قدرت نه ګوښه شو.

د اقتدار نشه به هر څوك لري خو د اقتدار جنون بيا داسي وي چي د هغوي په وړاندي نه هيواد څه ارځښت لري، نه ملت ، نه ملي ګټي او نه هم انساني ارځښتونه، دا د اقتدار جنون دي چي د خپل اقتدار له پاره د يوه قهرمان ملت پر عظمت ، عزت او آزادي اور پوري کړي پر سر ښندنو يي سوداګري وکړي او بقا او استقلال يي ليلام کړي.

مهماتماګاندي ته يو ځل اطلاع ورکړه شوه چي په ټاکلي غونډه کي برخه رانه خلي ځکه دده د ترور ډير دقيق پلان جوړ شوي خو ده ورته وويل : البته زه به د خپلو خلکو خوښ نه وم له مانه به ناراضه وي، زه به ورته ګنهور نه وم چي داسي ده نو هغوي حق لري چي دا کار وکړي خو زه له خپلو خلکو ليري نشم پاتي کيدلاي دي غونډي ته ولاړ او هلته ووژل شو .

استاد رباني ددي پر ځاي چي د هندي يارانو له پاره درمسال جارو کړي ښه دا ده چي د هندوانو د ملي مشر لال کرم چند مهماتما ګاندي په کړو وړو عمل وکړي يقيناً دا به د سيکولريزم پر بنياد ولاړ هندوستان لپاره ډيره په زړه پوري وي

کورنی فقه

پنځمه برخه ٣٤

څوك په زوي توب نيول او ديني وروري

قاضي محمد حسن "حقيار"

څه ډول ديني وروري ؟

مونږ چي په تيرو مخونو کي له پردي سره د وروروولي او يا د پري د په زوي توب نيولو کوم انځور وړاندي کړ او د هغي ناوړه پايلي (نتيجي) مو په ګوته کړی د هغه بل تصوير ته په دوستيځ کي د افراط مسئله هم وايي څرنګه چي د اسلام مقدس دين د ژوند د هري برخي پوري اړوند جريان ته حدود او پولي ټاکلي دي همدا راز د دوستي او دښمني لپاره يي هم حدټاکلي دي چي افراط او تفريط په کي له اسلام نه د سر غړاوي په معني دي.

له يو مسلمان سره (برابره خبره ده چي که هغه نارينه وي او که ښځينه) ربښتوني دوستي او وروري کول عيناً د اسلام په اصولو عمل ګڼل کيږي او که څوك په اسلام کي لږه مطالعه هم ولري نو په دي پوهيږي چي د مسلمانانو تر منځ وروري ، محبت، اخلاص، صداقت، ايثار او قرباني د اسلام له مباديو څخه ګڼل کيږي، په پورتني بحث کي زمونږ هدف دا نه دي چي ګوندي څوك دي له کوم پردي مسلمان سره د زوي په څير مينه نه کوي او يا دي له چا سره د ورور په څير محبت او چلند نه کوي بلکه هدف مو دا دي چي دا هر څه دي د اسلام په اينبودل شوي چوکاټ کي تر سره شي، اسلام په خپله د نفرت، دښمني او بدبيني ستر مخالف او د وروري ، صميميت، ځان تيريدني، ميني او عاطفي دين دي. الله«ج» مسلمانان ورونه بللي دي رسول الله«ص» ورته د يو بدن غړي وايي چي د يو غړي په نا ارامي سره ټول بدن نا ارامه وي په سورت حجرات کي فرمايي (انما المؤمنون اخوة ...) يعني : «بقيناً چي ټول مسلمانان سره ورونه دي» .

رسول الله «ص» فرمايي « المسلم اخو المسلم لا يظلمه ولا ...» يعني :« يو مسلمان د بل مسلمان ورور دي چي نه به پري ظلم کوي او نه ...»

د نړي په تاريخ کي د ديني وروري روڼ انځور او د بشر دوستي نه ماتيدونکي ريکارډ د رسول الله «ص» په ژوند کي په صدر د اسلام کي ليدل کيږي ، داسي وروري او دوستي چي بيلګه يي نه له صدر د اسلام نه وړاندي او نه راوروسته ليدل شويده. دي وروري ته د سيرت په کتابونو کي د «مواخات» نوم ورکړل شويدي او د تاريخ په کتابونو کي هم ديته د ورته «عهد مواخات يا د وروري د ور» نوم ورکړل شويدي، کله چي رسول الله «ص» له مکي معظمي نه مديني منوري ته هجرت و کړ نو د لومړي ځل لپاره يي په رسمي ډول د مواخات د بنسټ ډيره کيښوده او افتتاح يي کړه دا بيا د وروري او اخوت لامثاله دوردي دوي خپل مال، وينه ، سر او حيا يوه ګڼله تر دي چي حضرت انس ابن مالك «رض» روايت کوي چي کله رسول الله «ص» د حضرت عبدالرحمن ابن عوف«رض» او سعد بن ربيع«رض» تر منځ وروري ټينګه کړه نو سعد «رض» عبدالرحمن «رض» ته وويل چي خپله شتمني به هم درسره نيمه کړم او څرنګه چي زه په نکاح کي دوه ميرمني لرم نو يوه به له هغوي څخه هم درته پريږدم چي ته يي په نکاح کړي.

حضرت عبدالرحمن ابن عوف ځواب ورکړ چي الله «ج» دي ستا په اهل او مال کي برکت واچوي او دواړه دي تاته نيکمرغه وي ته ماته يواځي د بازار لار راوښايه نور زه خپل ژوند خپله جوړوم چي هماغسي و هم شول « بخاري کتاب النکاح .

اسلام چي د کومي ديني وروري درس ورکوي نو هغه سوچه، خالصه، بي تمي او بي مادي «طلبه دوستي ده په هغي کي د ټګي، دوکي، چل او فريب لپاره ځاي نشته دي . افراط په کي ځاي نه لري پردي سړي چي له کومي کورني سره کوم شرعي تړاو ونه لري نو د کور محرم نه بلل کيږي، مصنوعي او جعلي پيوندونه د شرعي ارزښتونو په مخ کي خنډ کيدلي نه شي د ديني ورور په نوم نا محرم او پردي سړي ته له ښځو سره د ازادي ناستي، ولاړي، اختلاط او مرکي اجازه نشته .

په اصطلاح ديني ورونه او ديني خويندي بايد د يو بل ناموس او عزت ته غله ونه اوسي نو بيا دداسي ديني وروري لپاره د اسلام غيره خلاصه ده او آسلامي ټولنه يي نه يواځي دا چي په روڼ تندي استقبالوي، بلکه تقديروي يي هم. مګر اوس چي د فسق فجور او ټګي د تکامل وخت دي مطلبي ياراني دي او هغه د پاکستانيو ورونو په اصطلاح سلاوتونه خپل ورروستي پړاوونه تر سره کوي، په حقايقو، صداقت او واقعيتونو باندي تر ډيره حده او په ځانګړي ډول په وروستيو پاتي ټولنو کي خاوري اوښتي دي نو له ډير احتياط او ذکاوت نه کار اخستل په کار دي ځکه چي ډير وليدل شول او ليدل کيږي چي په اصطلاح له ديني وروري تغسادايي حيايي رامنځته شويده .

اقوال زرین

– اصیل بودن سعادتمندي است ولي بهتر آنست که رفتار ما نوعي باشد که احتیاج به پرسش از اصل بودن ما نباشد.

– قناعت کیمیائي است که هر چه را لمس کند طلا مي شود.

– در ایمان قطعي همواره باید آتشي نهفته باشد که خاشاك پلیدي و بدگماني را سوخته و خاکستر سازد.

– ریا کاري هدیه ایست که فسق و فجور را به پیشگاه تقوي تقدیم میکند.

– به اخلاق فاضله از علوم و صنایع محتاج تریم.

– خوشخویي و گشاده رویي دام دوستي است و بردباري قبر عیب هاست.

– د انسان په بدن کي څلور جوهره شته دي : عقل، دین، حیا او ښه عمل، غوسه عقل له منځه وړي حسد دین، او غیب ښه او نیك عمل له منځه وړي. صدقه د مال ساتنه کوي، اخلاص د عملونو، رښتیا د وینا او مشوره درائي ورکولو ساتنه کوي.

دري څیزونه ژغورونکي دي :

– په ښکاره او پټه د الله«ج» څخه ویریدل.

– په غریبي او شتمني کي میانه روي اختیارول.

– د غوسي او خوښي په حالاتو کي انصاف کول.

– دري هلاك کوونکي څیزونه :

– سخته بخیلي، د خواهشاتو پیروي کول، ځان غوښتنه .

دري څیزونه د گناهونو بخښوونکي دي : په یخني کي پوره اودس کول، د جمعي د لمانځه دپاره زیات تگ راتگ کول، د یوه لمانځه نه وروسته بل لمانځه ته انتظار ایستل.

دري څیزونه مرتبه او درجي اوچتوي :

سلام اچول، د شپي له طرفه چي خلك ویده وي لمونځ کول، خلکو ته ډوډي ورکول،

د الله«ج» په نزد ښه او غوره ځوان هغه دي چي خپل قوت او ټوله انرژي د الله«ج» د رضایت په لاسته راوړلو کي ولگوي.

الله «ج» د قیامت په ورځ ددي پنځو څیزونو پوښتنه کوي :

هغه خپل عمر څنگه تیر کړي؟ ، خپله ځواني یې په کومه لاره مصرف کړي ؟ مال او دولت یې څنگه گټلي ؟ څه چي هغه ته معلوم و په هغه یې څومره عمل کړي ؟

امارت او حکومت مه غواړه، ځکه که په تقاضا سره تاسوته امارت ورسیده نو الله«ج» به تاسو هماغه امارت ته حواله کړي او که بې له تقاضا څخه در ورسیده نو الله«ج» به له ستاسو سره مرسته وکاندي.

گلشن الفت

آصفي

گر ز بوي گلشن الفت معطر میشدم
گر نبودي تیره از گرد ریا آیینه ام
مي بدم گر پاي بند امر و نهي او بدل
گر بساط خوي بد، گستردمي در زنده گي
مینمودم گر به حکم نفس بد خواه کارو بار
وارهیدم همچو مرغ قدس از دام هوا

مونس خوبان دهر و تاج هر سر میشدم
در دو عالم قابل دیدار دلبر میشدم
از تجلیگاه الطافش منور میشدم
پس چسان انسان و یا تفکیك از خر میشدم
صاحب مال و منال و عزت و زر میشدم
ورنه از دست جفایش بي سرو پر میشدم

آصفي شکر خدا با غافلان همره نیم
ورنه همچون غنچه، نشگفته پر پر میشدم

سزاي تجاوز

داعي

از قضا روزي چو خرسان سر کشید
گرك خون آشام خون ها در کشید
همجواري روس مکار رابیین
بر حریم پاك ما لشکر کشید

دد منش وار حمله بر کشور نمود
لاف دوستانه زدو خنجر کشید
برسریر تخت حاکم شد تزار
ضد قانون خدا دفتر کشید

بي اساسي را بر اساس نامي نهاد
قانون خود ساخت و خاکستر کشید
بهر قتل ملت خفته بخون
همچو قصاب جامه احمر کشید

از جنایت ها بگویم شمه یي
بر اسیران تیغ پر خون بتر کشید
صد هزاران طفلکان شد بي پدر
مسکن و ماوایي شان اخگر کشید

در پلگون دست و پا در بند بود
بر سر شان تانك غول پیکر کشید
آن شهیدان نیمه بسمل مي طپید
بر سر شان خاك بلدوزر کشید

رقص رقصان مي طپید از درد و سوز
ناختان دست و پا یك سر کشید
ظلم و استبداد کفار لمس کرد
او که در راه خدا عبقر کشید

کار و پیکار مجاهد روز شب
روس را از خاك ما داور کشید
سارق و جاني و هرزه شد رها
قید را آن مؤمنان بد تر کشید

در اسارت ماند تنها مؤمنان
دزد و اوباش عفو شد از در کشید
چون دید او شیرزه، شیران حق
همچو خرسان زوزه ابتر کشید

کي ؟ مساویست لشکر ما وعدو
مؤمنان دست تهي اظفر کشید
از شهیدان است «داعي » آرمان
ضد کفار نعره ي اکبر کشید

د بقا تصویر

قاضي محمد حسن «حقیار»

په نیاز د محبت به دي گلان کیدم وربل کي
راځه چي درته ځاي درکړم د زړه په شیش محل کي
چي شي مو تصور کي ثري جوړه ثریا
قوه د فرښتو کړو د خپل ځان په تماشا
جذبه کي له دوزخ او له جنت نه بي پروا
دایري نه بي بهر شورانه هیره شي دنیا
په قدح او په ساغر به درود وایو په محفل کي
تصویر د خپل بقا به په فنا کي لټوو
جوهر به د وصال خوند د صهبا کي لټوو
تمثیل به د جنت ښکلا دا ستا کي لټوو
نگهت به د ختن باد سبا کي لټوو
«حمزه» به ځان سره کړو چي مو گډ دي تخیل کي
راځه چي د وجود له احاطي نه شو بهر
بو داسي کیف پیدا کړو چي مو حس نه کړي بشر
لطیف او نوراني جسم لا موټ ته وي ابتر
بدل په حقیقت کړو د مجاز سوي وزر
تهمت د محاسب نه به ځان خلاص کړو په عمل کي
راځه چي را پیدا کړو امتزاج د روح او تن
زه ستا د مخ هنداره ته زما د زړه چمن
خالونو ته د سپین مخ دي زه ونیسم لمن
په شال د رنگینیو به دي پټ کړمه بدن
چي و ستا بي «حقیار» تا په نغمو او په غزل کي
راځه چي درته ځاي درکړم د زړه په شیش محل کي

در ایالات متحده امریکا سالانه در حدود ١١٥٠٠٠ نفر در اثر دود کردن سگرت با امراض قلبي دچار میشوند

سگرت دود کردن و استعمال تنباکو نه تنها معضله و پرابلم بزرگ کشور هاي عقب مانده و در حال رشد است بلکه این معضله در کشور هاي پیشرفته غرب نیز از جمله پرابلم هاي حاد بشمار میرود. این پرابلم در جوانان در سن کمتر از ٢٠ سالگي آغاز میگردد و الي اخر عمر دوام میکند. دانشمندان دول غربي در درازاي تاریخ سوالاتي را به ارتباط سگرت کشیدن و دود کردن تنباکو طرح کرده اند و جواباتي را نیز در مورد آن ارائه داشته اند که بطور مختصر تقدیم میگردد .

سوال : ایا طریقه مصؤن کشیدن یا دود کردن تنباکو در جوانان وجود دارد ؟

جواب : نه خیر . تمام انواع سگرت دود کردن ها باعث تخریب انساج بدن گردیده و حتي مقدار کم سگرت کشیدن هم مضر و خطرناك بوده است. باید گفت که بعضي از جوانان دود سگرت را به شش ها تیر نمي کنند و به این عقیده اند که این کار شش ها و انساج بدن آنها را تخریب نمي کند در حالیکه در واقعیت امر دود کردن سگرت به هر شکلي که باشد براي جوانان مضر و خطرناك است .

سوال : آیا واقعاً سگرت کشیدن و تنباکو دود کردن در جوانان اعتیاد را بیار مي آورد ؟

جواب : بلي. چیزیکه انسان توسط سگرت کشیدن وارد بدن خود میکند بر علاوه عناصر دیگر نیکوتین است . علماي طب نیکوتین را یك ماده معتادي مانند هیروئین و کوکائین نامیده اند.

وقتیکه مقدار کمي از ماده، نیکوتین وارد بدن مي شود انسان احساس خوشي و کیف میکند. و این عمل باعث مي شود که انسان به دود کردن تعداد بیشتر سگرت میل و رغبت پیدا کند . و در صورت ترك نمودن سگرت سردردي، عصبانیت و مشکلات در خواب بوجود مي آید.

نیکوتین ماده اي است که بالاي ساختمان کیمیاوي دماغ ترکیب اعصاب مرکزي تاثیر منفي میکند و بنا بر آنان سگرت کشیدن بالاي مزاج و احساس شخص تاثیراتي داشته است .

سوال : نیکوتین چه عمل را در بدن انجام میدهد ؟

جواب : با اولین دود سگرت که به شش ها میرود ماده نیکوتین داخل سیستم بدن میشود و درین موقع شخص احساس بیداري مینماید. در دود هاي بعدي نیکوتین زیاد تر در خون بدن جذب میگردد و آن به بدن آرامش و تسکین زیادتر میدهد. نیکوتین از نظر ترکیب کیمیاوي یك ماده زهر آمیز است که گرفتن مقدار زیاد آن سبب فلج شدن عضلات و سیستم تنفسي و سر انجام سبب مرگ میگردد. در حقیقت گرفتن مقدار نیکوتین معادل یك اعشاریه پنج حصه تابلیت اسپرین زهر کشنده است. معتادین سگرت هنگامیکه مقدار کمي آنرا میگیرند وجود انسان فوراً آنرا به پارچه هاي کوچك مي شکند تا از ضرر و شر آن نجات یابد از این رو باعث مرگ نمي گردد.

سوال : آیا سگرت کشیدن باعث بروز بیماري سرطان در جوانان نمي شود ؟

جواب : بلي میشود. نه تنها سرطان شش ها بلکه سگرت دود کردن و استعمال تنباکو در حدود (٣٠) فیصد تمام مرگ هاي ناشي از سرطان را در جوانان بیار مي آورد. طبق تجارب، سگرت دود کردن باعث بوجود آمدن سرطان دهن، حنجره و مري شده و باعث بوجو آمدن سرطان مثانه ، پانقراص ، معده و جهاز بولي و تناسلي نیز میگردد.

سوال : چقدر شانس زنده ماندن معتادین در سن جواني موجود است ؟

جواب : در سنین جوانان شانس زنده ماندن صرف ١٣ فیصد است . در طي مدت ١٥-٢٠ سال اخیر دانشمندان در حصه تداوي سرطان شش ها هیچ پیشرفتي را نصیب نه شده اند.

سوال : چرا تمام کسانیکه سگرت دود میکنند به بیماري سرطان شش مصاب نمي شوند ؟

جواب : نظر به ترکیب و ساختمان بیولوژیکي عکس العمل سگرت کشیدن در انسانها مختلف و گوناگون است. از آنجا که سگرت اضافه از چهار هزار مواد کیمیاوي را داشته است بنا بر آن عکس العمل آن در وجود اشخاص فرق میکند.

سوال : آیا سگرت کشیدن بدون بیماري سرطان باعث بوجود آمدن دیگر امراض نیز میگردد ؟

جواب : سگرت دود کردن از طریق جهاز تنفسي باعث تولید بلغم گردیده و به تعقیب آن سرفه هاي متواتر بمیان مي آید. در حالت عادي بخاطر اینکه اکسیجن به خون برسد باید از جدار وسیع شش ها عبور نماید در آن هنگام هزاران کیسه هوایي که در شش ها موجود است دیوار هاي شان از بین رفته تعداد کیسه هاي هوایي کم شده اکسیجن هم کمتر به خون میرسد.

سوال : در سگرت چه عناصر موجود است ؟

در ترکیب سگرت قیر موجود است . که از اضافه از چهار هزار ماده کیمیاوي ساخته شده و از آنجمله ٤٣ عنصر آن باعث تولید کانسر (سرطان) میگردد. و همچنان بعضي از مواد و عناصر دیگر آن باعث امراض قلبي و جهاز تنفسي مي شود. بر علاوه آن در سگرت گاز هاي زهري، نایتروجن و کاربن مونو اوکساید موجود است . کاربن مونواکساید همان گازیست که اکثراً در کاراج هاي سربسته باعث مرگ میگردد. این گاز بخاطري خطرناك میباشد که تمایل زیاد به مالکیول انتقال دهنده اکسیجن در کرویات سرخ خون داشته است بنا بر آن کاربن مونواکساید خون را از داشتن اکسیجن کافي محروم مي سازد وقتیکه انسان سگرت دود میکند قلب او مجبور به کار اضافي گردیده تا این کمبود را معاوضه کند و در نتیجه قلب از این کار شاقه خسته میشود.

سوال : آیا سگرت دود کردن باعث امراض قلبي نیز میگردد؟

سگرت کشیدن فشار خون را بلند مي برد. زنان حامله در حقیقت با دود کردن سگرت حیات خود و طفل خود را با خطر مواجه مي سازند. طبق تجارب زنان حامله که به سگرت دود کردن عادت دارند زود تر با خطر سقط جنین دچار میشوند. و از سوي ولادت قبل از وقت نیز صورت گرفته میتواند. علاوه بر ان زنان سگرت کش نمي توانند تابلیت هاي ضد حاملگي را استعمال کنند. طبق تجارب ماده نیکوتین بعد از دود کردن سگرت در ثانیه هفتم به دماغ میرسد. باید اذعان داشت که دود سگرت در معاینات لابراتواري هم اختلالاتي را بوجود مي آورد. جوانان در عمر ده سالگي تا هجده سالگي بیشتر به سگرت اعتیاد پیدا مي کنند و خوش میشوند که سگرت دود کنند طوریکه راپور ها نشان میدهد سالانه در حدود هفده میلون نفر سعي میکند که اقلاً براي یك روز سگرت را دود نکنند. اضافه از چهار میلون نفر بعد از ٣ ماه هنوز هم سگرت دود نمي کنند. تقریباً ٩٠ فیصد معتادین سگرت آرزو دارند تا سگرت کشیدن را کنترول کنند. در بین سال هاي ١٩٤٠-١٩٥٠ سگرت کشیدن خیلي زیاد بود ولي امروز تمایل مردم به سگرت دود کردن روبه کاهش است .

په اسلام اباد کي د افغانستان د اسلامي امارت سفیر محترم مولوي عبدالحکیم ...

په قرآن او سنت کي لیکل شوي سزا وي دي چي انسان په کي تغیر نه شي راوستلي او هلته منشور د ملل متحد، د بشر د حقوقو اعلامیه او د ملګرو ملتونو نور میثاقونه په صراحت سره دا خبره کوي چي د نړي ټولو انساناتو ته دا حق دي چي په خپل دین او کلتور باندي عمل وکړي نو د ایمنسي امن انټرنیشنل او ده بشر د حقوقو د هغو سازمانونو چي زمونږ په شرعي سزاګانو باندي اعتراض کوي دا اصلاً زمونږ ددین او مذهب ، زمونږ د کلتور او عنعنې او قانون لپاره توهین دي او په غیر مستقیم ډول حتي په مستقیمه توګه د بشر د حقوقو اعلامیي، د ملګرو ملتونو منشور او نورو میثاقونو ته توهین دي ځکه چي له یوي خوا منشور د ملګرو ملتونو، د بشر د حقوقو اعلامیه او نور میثاقونه د نړي ټولو خلکو ته دا حق ورکوي چي هغي کي د افغانستان مسلمانان او د افغانستان امارت هم شامل دي چي په خپل دین په خپل کلتور او په خپلي عنعني عمل وکړي او له بلي خوا د هغوي په خلاف بیانونه ورکوي زما خیال دي چي ددوي دا عمل د ټولو بین المللي حقوقو او قوانینو بر عکس یو عمل دي دا ټول له تعصب نه ډك او د افغانستان د اسلامي امارت په وړاندي یوه دسیسه ده چي د دوي د ناکامي لپاره هلي ځلي وکړي. ماته دا هم د حیرت ځاي دي چي په امریکا کي او یا په نورو عربي هیوادونو کي قاتل ته د قصاص سزا ورکول کیږي او هیڅوك پري اعتراض نه کوي خو کله چي همدا سزا په افغانستان کي ورته ورکول کیږي نو ټوله دنیا پري خبري کوي.

همدا راز ما په نیویارك د ایمنسي انټرنیشنل سره خبري کولي چي په افغانستان کي یوه تن په څپیړه وهل کیږي نو دوي بي رسماً مونږ ته رالیږي او واویلا پسي شروع کوي خو کله چي په مزار کي دري زره تنه بي ګناه طالبان په مظلومانه انداز په شهادت رسول کیږي نو دوي پري چپ دي نو دا د دواړو خواو په مقابل کي دومره غټه فاصله ددي څرګندوي ده چي دوي د افغانستان د اسلامي امارت په وړاندي په یو سازش باندي بوخت دي نو بناً د افغانستان اسلامي امارت په دا ډول له تعصب نه ډکو تبلیغاتو ته غوږ کښېنږدي او په هغه څه به عمل کوو چي زمونږ قانون، دین او شریعت بي راته وایي دا ځکه څه چي مونږ عملي کوو دا آسماني قوانین دي او انسان په کي تصرف نه شي کولي په دي کي ایت، حدیث ، اجماع او قیاس موجود دي نو دیته تغیر ورکول زمونږ د دین په خلاف یو عمل دي نو د افغانستان اسلامي امارت چي د شریعت تطبیق تکل بي کړېدي دا ډول تبلیغاتو ته په هیڅ غوږ نه ږدي

پوښتنه : دوي ولي دا ډول تبلیغات کوي ؟

ځواب: ما مخکي وویل چي دوي د اسلامي امارت د کمزوري لپاره دا کار کوي او ددي لپاره چي نړۍ ته بي په پټهو سترګو معرفي کړي او که نه که چیري په دومره قوت سره په افغانستان کي یو سیکولر حکومت وای چي په اتیا په سلو کي خاوره کي بي امن قایم کړي واي واحد نظام او اداره بي راوستي واي نو نن به بي ټولي دنیا صفت کولي.

پوښتنه : مجاهد صاحب دوي په افغانستان کي اسلامي نظام د طالبانو نظر بولي او وایي چي دا ډول نظام صحیح ندي تاسو په دي اړه څه وایی ؟

ځواب : ما په نیویارك کي مختلفو ادارو ته دا ویلي وو چي په افغانستان کي چي کوم اسلامي نظام جاري دي دا یو زر کاله مخکي په دي هیواد کي موجود وو ټولو حکومتونو په همدي قانون عمل کړیدي یواځي په همدي صدي کي هم دوه ځله ترتیب شوي او په یو موډرن شکل دنیا ته وړاندي شویدي چي یو ځل د امیر امان الله په وخت کي د ١٩٢١ نه تر ١٩٢٨ پوري او دوهم ځل د ظاهر شاه په وخت کي په کال ١٩٦٥ م کال کي دا هم هماغه قانون دي چي مخکي په موډرن ډول ترتیب شوي وو مونږ نه نوي قوانین منظور کړي دي دا هماغه زر کلن پخواني قانون دي دا ځکه چي افغانستان ته نوي قانون نه دي راغلي ځکه چي افغانستان د هیچا مستعمره نه دي پاتي شوي دا چي څوك وایي چي دا د طالبانو نظر دي دا بالکل غلط دي دا د افغانستان د ټولو خلکو عقیده غوښتنه او نظر دي دا چي څوك زمونږ په خلاف پروپاګند کوي دا زمونږ د دیني کلتور او عنعني سپکاوي دي.

پوښتنه : ځني خلك اعتراض کوي چي طالبان باید په خپلو اسلامي پالیسیو کي ترمسنبت راولي تر څو بي نړیواله ټولنه په رسمیت وپیژني تاسو په دي هکله څه وایی ؟

ځواب : زما په عقیده هغه تغییرات چي د پردیو د فشار او په خاص ډول د سیکولر قوانینو درلودونکي هیوادونو په نتیجه کي رامنځته کیږي دا بالکل غلط دي او اسلامي امارت باید هیڅکله دا ونه مني دا ځکه چي په افغانستان کي چي کومو پخوانیو حکومتونو د پردیو د فشار او اشاري په واسطه کوم نظامونه راوستي دي دوي بي له بدبختي سره مخ کړېدي حتي د حکمراني چانس ورته نه دي پیدا شوي د مثال په ډول کله چي امان الله خان له غرب نه متاثر قانون افغانستان ته راوړ هماغه امان الله چي د ملت له تائید نه برخمن وو ملت بي مخالف شو او له افغانستان نه بي وشاړه بیابي په خپل ژوند افغانستان ونه لید همدا راز کمونستانو چي هم د افغانستان د خلکو د عقیدي او ایمان سپکاوي وکړ سره لدي چي سپر طاقت بي تر شاه ولاړو داسي له منځه لاړل چي ټوله کمونستي او شوروي اتحاد ورسره دړي وړي شو نو که خداي مکړه طالبان هم خارجي فشار ته غاړه کیږدي نو فکر کوم چي له همدي سرنوشت سره به مخ کیږي نو زما مشوره دا ده چي د افغانستان اسلامي امارت باید خارجي فشار ته د تسلیمي په ځاي ملت له ځان سره کړي او همداسي بي ژوندي وساتي لکه چي همدا اوس ورسره روان دي د دوي د هیلو او ارزوګانو احترام دي وکړي.

پوښتنه : تاسي د یو دیني عالم او د بین المللي قوانینو نه د یو با خبره شخصیت په توګه د نړیوالو ادارو دا ډول څرګندوني څومره د دوي حق او صلاحیت بولي ؟

ځواب : زما د مطالعي تر حده د دوي دا ډول څرګندوني د نړیوالو قوانینو په خلاف یو عمل دي دا ځکه چي بین المللي قانون په دي هکله یو مستقل باب لري چي کله د بین المللي قانون او د یو هیواد د سیمه ایز قانون تر منځ تضاد او ټکر راشي نو ټول قانون پوهان په دي نظر دي چي محلي قانون ته باید ترجیح ورکړل شي ځکه چي که چیري محلي قانون له منځه ځي نو له دي سره د یو هیواد خپلواکي او ازادي له منځه ځي په داسي حال کي چي ددي هیواد ازادي او خپلواکي د ملګرو ملتونو منشور،د بشر اعلامیي او د نورو نړیوالو میثاقونو تضمین کړېدي نو دا عمل د ملل متحد د منشور خلاف عمل دي نو بناً بین المللي فشارونه نه شي کولي چي په افغانستان باندي د بین المللي قوانینو په خلاف یو عمل وکړي نو د دوي دا عمل د ملګرو ملتونو د منشور خلاف عمل دي.

از جریان اجراات امور ...

در رابطه به چگونگي و نحوه فعالیت هاي منسوبین ریاست عمومي استخبارات و بهبود هر چه بیشتر امور مربوط به مسوولین شعبات مشوره هاي لازم داد همچنان هیأت با محترم مولوي احسان الله احسان و ملا عبدالحق اخند معاونین ریاست عمومي استخبارات ملاقات نموده روي مسایل مربوط صحبت بعمل آورده که بعد از غور و بررسي همه جانبه در رابطه به امور مربوط تصامیم لازم اتخاذ گردید.

د کابل، هرات، ننګرهار ...

د کرنې وزارت سرپرست محترم مولوي عبداللطیف منصور او ددغه وزارت معین محترم مولوي عبدالغیاث قانع ددغه کمپاین د فعالیت او پر مخ بیولو بهیر وکوت او وریښمو د چنجیو د روزني د پروژو د فعالیتونو د ګرندیوتوب له امله بي قدرداني وکړه .

د کرنې وزارت یوه مسوول خبر ځاي د باختر اطلاعاتي آژانس ته وویل د روان کال په بهیر کي د کابل ، هرات، ننګرهار او د لوګر د ولایتونو د وریښمو د چنجیو د روزني پروژي چي له زیاتو کلونو راپدیخوا له فعالیت نه لویدلي وي د کورنیو ماهرانو په میرانه بیا احیا او په فعالیت بي پیل کړیدي.

کتابخانه ریاست عمومي ...

بز رگ بار اول به حضرت محمد «ص» در سوره اقر بسم ربك الذي .. به کتاب «قلم» نوشتن و خواندن بشارت داده ؛ در اجراي آن امر مصمم مامور ساخته است .

یك منبع مسؤول کتابخانه اداره امور به آژانس اطلاعاتي باختر گفت که در این کتابخانه به تعداد ٣٤٦٩ جلد کتابهاي دیني، ادبي ، تاریخي و به تعداد ٧٠٠ جلد مجلات و رساله هاي علمي موجود میباشد.

در این محفل محترم مولوي سلیمان معاون اداره امور ، رؤسا و کارمندان آن اداره اشتراك نموده بودند.

سنگ تهداب تعمیر شعبات ...

مواد خوراکه و زراعت جهان در امر اعمار شعبات مربوط ریاست عمومي وترتري اظهار قدرداني نمود. شعبات مربوط وترنري در تعمیر کلنیك حیواني مرکزي جمال مینه شهر کابل به مصرف مالي موسسه مواد خوراکه و زراعت اعمار میگردد.

سنگ تهداب مدرسه حضرت ...

متبرکه قرآن عظیم الشان آغاز یافته متعاقباً محترم مولوي محمد اغا و تني چند از مسوولین و متنفذین در رابطه به اهمیت و ارزش مدارس دیني در جهت فراگیري علم و دانش طلبا و توسعه و گسترش تصامیم اسلامي صحبت نموده ایجاد مدارس دیني را به مشابه سنگ تهداب سنگر قوي تعالیم دیني بخاطر مقابله علیه دشمنان نظام اسلامي و عقاید کفري و الحادي تلقي نمودند.

مدرسه حضرت بلال «رض» به همکاري مردم و مسوولین ولایت کنر اعمار میگردد که با اکمال آن زمینه بهتر فراگیري دروس دیني براي طالبان منطقه متذکره فراهم میگردد.

دوستم بنام (افغانستان ...

دست گرفته است .

ایشان اضافه نمودند : هم اکنون ٣٠٠ تن از افراد کوماندویي کشور ترکیه وسبعاً جنرال دوستم را در محافظت خویش قرار داده و ٢٤ ساعت در رکاب حاضر باشان اعتمادي وي قرار گرفته اند؛ هکذا ٢٥٠٠ تن از افراد نظامي ازبکستان عملاً در جمع از نظامیان قوت هاي دوستم در شهر مزار شریف مسلح میباشند.

آنها هم چنان این موضوع را هم خاطر نشان نمودند که از طي ده روز بدینسو یك گروپ متشکل از افراد نظامي و سیاسي کشور ایران که مجموعاً به یکصد نفر میرسند با انباري از سلاح و تجهیزات نظامي وارد شهر مزار شریف گردیده و همه روزه در دهات و قراء اطراف مربوط مزار شریف رفته و مردم را علیه تحریك و امارت اسلامي افغانستان تحریك و تسلیح مینمایند. به اساس اظهارات همین شاهدان تا هفته قبل این هیأت ٤٠٠ میل سلاح خود کار ایراني، ٥٠ قبضه راکت انداز، و ٤٠ میل ماشیندار ثقیل را به مردم آن محلات به منظور ادامه ... جنگ و مقاومت با طالبان براي آنها توزیع نموده اند .

د خټیځ زون د تنظیمه ...

چي د ختیځ زون د تنظیمه ریاست او د ننګرهار ولایت مرستیال محترم مولوي صدراعظم او د څلورمي لوا قوماندان محترم اول ګل هم حاضر و دواړو خواوو د هیواد د روانو حالاتو او د مربوطو مسالو په باب خبري اتري وکړي. دغه کتنه د جناب محترم مولوي محمد یونس خالص په کور کي وشوه .

سنگ اعمار پلچك هاي مسیر ...

عمومي احیا و انکشاف دهات پیش برده میشود به کمك مالي اداره (یو. ان. او. پي. اس.) به ارزش ٣٥٠ ملیون افغاني ظرف ٢ ماه آینده اعمار میگردد . که با اعمار پلچك هاي مذکور مشکلات عبور و مرور وسایط ترافیکي در شاهراه کابل سروبي تا حدي مرفوع میگردد .

د غرش د فټبال ټیم د ...

تر منځ د کابل په ملي ورزشي لوبغاړي کي پیل شویدي ... د فټبال ټیم د صفر په مقابل کي ... څلورو سره د خیرخاني د نوي پروژي په ټیم باندي د مکروریانونو د فټبال ټیم د یوه په مقابل کي په ... سره د استقلال د فټبال په ټیم باندي او د شعاع د فټبال ټیم د صفر په مقابل کي په یوه سره د اریانا افغاني هوایي شرکت په ټیم باندي بریالي شو .

د کابل په ملي ورزشي لوبغاړي کي ددغو لوبو لړي هره ورځ دوام لري.

در حدود ده نفر در شمال ...

در اجتماع مذکور که در حدود هزار محصل اشتراك کرده بود، تقریباً صد تن از گروپ دیگر با چوب و سنگ به آنها حمله کردند. پولیس با استفاده از گاز اشك آور بخاطر متفرق ساختن دو طرف مداخله کرد.

انجمن اسلامي محصلان پوهنتون طرفدار دموکراسي گرد هم آئي مذکور را در اعتراض به قدرت رهبر روحاني ایران سازمان داده بود.

د شریعت تبصره

حدود اسلامي مدافع حقوق مظلومان است نه حامي جنایات ستمگران

اخیراً سازمان عفو بین المللي طي اعلامیه تطبیق حدود اسلامي و تعزیرات شرعي را در افغانستان به عنوان تخطي از حقوق بشر قلمداد نموده همچنان وزارت خارجه امریکا نیز بر نفاذ حدود شرعي از جانب امارت اسلامي افغانستان انگشت انتقاد گذاشته است . اگر چه سازمان مذکور و وزارت خارجه امریکا میخواهند با نشر این اعلامیه ها خود را حامي حقوق بشر انگشت نشان سازند اما اصلاً ادعاي آنها واژگون

حقیقت است زیرا در هر مکتب فکر و سیاست، مظلومان سزاوار حمایت و دلداري اند نه ظالمان و تعدي کنندگان، مقتول بي گناه مظلوم است، آنکه بر حریم مال و عزتش تجاوز صورت میگیرد مظلوم است و جامعه، که بر ضد معتقدات مذهبي و ارزش هاي اخلاقي اش قدم بر داشته مي شود مظلوم است پس حدود و تعزیرات اسلامي که به منظور نجات حیات بشریت از چنگال خونریزان قاتلین، به مقصد حفظ مال و حریم سکونت انسان در جامعه و به هدف تزکیه جامعه بشري از لوث مفسدین و متجاوزین به مقدسات و عصمت جامعه، تطبیق میگردد و هدف همه و همه این تطبیقات، نجات مظلومین است پس چطور آنرا میتوان تخطي از حقوق بشر خواند و بر علیه نفاذ آن برخاست ! مگر مقتول انسان نیست و مستحق حقوق بشري نمي باشد؟ مگر عزت و عصمت از ارزش هاي مهم انساني نبوده و داشتن آن از مشخصات اساسي تشخص و هویت انسان نمیباشد ! مگر چور و چپاول دارایي هاي شخصي و عامه مردم رواست که از سارق دفاع صورت گیرد ؟

و بالاخره مگر قوانین حفظ عصمت و عفت اجتماع بي ارزش است که دست گرفتن متجاوزین علیه آنرا تخطي از حقوق بشر خواند؟

ما به سازمان عفو بین المللي میگوئیم که اگر تطبیق حکم قصاص را به اصطلاح تخطي از حقوق بشر مي دانند پس چه راهي دارند تا دست قاتلان را از ریختن خون مظلومان بگیرند ! آیا قوانین وضعي آنها توانسته تا جلو کشتار هاي شباروزي را در کشور هاي مختلفه جهان بگیرد ! ما به انها توصیه مي کنیم که به حال آیند و بمنظور بر اورده شدن امیال و اهداف خاص دیگر شان!! بر مقدسات اسلامي تجاوز نه کنند در غیر آن مطابق فرموده عالیقدر امیر المؤمنین که به جواب سوال خبرنگار رادیو بي بي سي در مورد ارائه داشته اند ؛ عکس العمل شدید بر ضد اوشان نشان داده خواهد شد. اگر این به اصطلاح مدعیان حقوق بشر از منطق کار بگیرند و با توجه به میزان واقعات قتل و کشتار در جامعه خود نظر نموده و بعد ارقام مجموعي قصاص هاي شرعي را در افغانستان از نظر بگذرانند یقیناً در خواهند یافت که واقعات یکروزه قتل در کشور هاي شان بیشتر از مجموع قصاص هاي یکساله در افغانستان خواهد بود پس کدام قوانین به انسان حقوق بیشتر قایل شده و سبب نجات انسان از ظلم و تجاوز گردیده است! آنها باید واقعات سرقت و در جریان سرقت به میزان کشتار ها و زخمي شدن افراد جامعه خود نظر کنند و بعد قضاوت نمایند که قطع دست سارق دفاع از حقوق بشر است یا تخطي از آن ! آنها به حالت زار و غیر قابل نجات ملیون ها مریضان ایدز کشور هاي شان نگریسته و آنگاه فیصله کنند که لوطیان و زناکاران ظالم اند و یا تعوذ بالله تطبیق کننده گان حدود شرعي. آنها میزان مجموعي مرگ و میر هاي ناشي از استعمال شراب و بلند رفتن گراف فساد اخلاقي ، بي بندو باري ها و بي نظمي ایکه ناشي از شرب مشروبات الکولي مي شوند را در جوامع خود از نظر بگذرانند و بعد فیصله نمایند که شراب نوشي از جمله حقوق بشر است یا عدول از حقوق بشر ؟

ایکاش که این مدعیان حقوق بشر به دور میز استدلال ، دانش، منطق و قناعت مي نشستند و بعد از مباحث تصمیم مي گرفتند که چه بگویند؟ حدود اسلامي که صد فیصد به منظور حیات، فلاح و نجات افراد جامعه انساني و خود جامعه وضع گردیده همیشه و براي ابد دست ظالمان و ستمگران را از تجاوز گرفته و اشك مظلومان را پاك میسازد اگر ادارات بخصوص جهاني که با چشم انتقاد به سوي تطبیق این حدود مي نگرند اهداف دیگري در پس پرده ندارند پس از تطبیق حدود اسلامي در افغانستان چه مشکلي برایشان ظهور نموده که هیاهوي بر پا و داد به اصطلاح حقوق بشر را بلند کرده اند ! ما جهانیان دانشمند و بیطرف را به قضاوت میطلبیم و به آنها میگوئیم که آیا واقعاً همین طور نیست که ما از مظلوم دفاع مي کنیم و به قاتل سزا مي دهیم آنها از قاتل حمایت کرده و بر گلوي مظلومین پا مي نهند؟ ما از مال و حریم شخصي افراد جامعه دفاع میکنیم و آنها از سارق، قطاع الطریق و تجاوزگر، ما خواهان حفظ عصمت و عفت جامعه بوده تا بشریت از شر هیولاي ایدز و غیره مصایب در امان باشد و آنها از پامال کننده گان ناموس بشریت و سرایت دهندگان امراض خبیث ساري و بالاخره، براي انسان حق حیات، عصمت، عفت، صحت و ثروت حلال قایل هستیم و آنها بر خلاف، پس کدام جانب مدافع حقوق بشر است و کدام طرف تخطي کننده از آن ؟

همه جهانیان باید بدانند که حدود اسلامي از فرامین آن ذات اقدس الهي سرچشمه گرفته که آفریدگار جهان است، خالق بشریت است، بر بندگانش نسبت به هرکسي مهربان و مهربانتر است، بر همه احوال ماضي، حال و استقبال مخلوق علم کامل دارد پس هیچگاه تطبیق حدود وضع کرده آن ذات مقدس تخطي از حقوق بشر و یا بر خلاف خواسته هاي بشریت سالم ، با دانش ، صالح و خیر خواه بوده نمیتواند. سازمان عفو بین المللي و غیره ادارات به اصطلاح مدافع حقوق بشر و در اصل بشر دشمن حق ندارند تا در پس پرده اهداف سیاسي و یا قصداً بنا بر کینه توزي شان در برابر اسلام، علیه مسلمانان ، حدود و مقدسات اسلامي و امارت اسلامي افغانستان تبلیغات سؤ نمایند، ما ایمان کامل داریم که خداوند به خیر و فلاح بشریت خبرت کامل داشته و فرامین نجات بخش و حیات افرین ذات اقدس اش «ج» را تطبیق مي کنیم و دراین راه پرواي هیاهوي و سنگ اندازي هیچ کسي را نداریم .

تلك حدود الله ...

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Movement of Taliban - Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press

یادونه

ښایي ستاسو ایمان په اجازه درلکړي چي دا ډول سپېڅلي پاڼي په ناوړو ځایونو کښي وغورځوي.

د ګډون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150